# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد    بدین بوم و بر زنده یک تن مـــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم    از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com    afgazad@gmail.com

| سیاسی | Political |
| --- | --- |


بســــــــــــمل

۱۰ جنوری ۲۰۱۳

# ښه به وي چې ټول امريکايي سرتيري ووزي

**په دري ژبه کې يو متل دی وايي، «غم نداری بزبخر.»**

وزې له هغوشيطانواوناراموڅارويوڅخه دي چې نه يې خپل ښبتن ورڅخه ارام لري اونه يې دګښتن ګاونډيان .

دوزوڅښتن لامخ اخوانه وي اړولی چې وزې  يې دسترګوپه رپ کې  دميوه لرونکوونوپوستکي يادپالېزو وبړې دانګي وانګي اوخپل ښتن په غم واړوي څکه پورتنی متل په ځای دی چې غم نداری بزبخر.

دافغانانوپه تېره بيادپښتنوځانګړتياوې دادي چې ښه مېلمه پال اوعزتمن خلک دي خومېلمه بايدخپل ځان او حدپېژندلی وي.

مېلمانه کلونه کلونه په چانه اړوي حتاکه دچاسکني تروړزي يادمامازامن  هم بې له کومې ستونځې له دوو دريو اونيو څخه زيات پاته شي اول خوپخپله بدښکاري دوهم دکورغړي ورسره سرګردان وي درېيم داچې کليوال ټول پسې ګوري اوډول ډول پوښتني ورته پيداکيږي.

زموږ "ښاغلی حامدکرزی" دداسي نابللومېلمونوترمخ په پراشوت کې راکوزکړشوچې نه خوافغانان وو، نه يې دا رنګونه افغانانوته ورته وو، نه دافغانانوپه فرهنګ خبروو اونه يې په کيسه کې شول  هغه اخلاق، کورنی تربيــه اونورڅه خويي لا اخواپرېږدئ.

دغوراغلونابللواوپرغلګروامريکايي پوځيانوديوې لسيزې په تېرېدوسره زموږ دولس له وژلواوکړولوڅخه ور اخواخپله پوځي اوکورنی روزنه  په ډېرکبير سره داتولې نړی ته وښوده.

زموږددونوپه تېره بيادسلامي مقدساتوسپکاوی،څوځلي دقران عظيم الشأن سوځونه، په طالب مروبولي  کول، دپنجوايي ولسوالی په زنګاوات  (زنګي آباد) کلي کي د۱۷تنوبې ګناهوافغانانودتولوژني اوسوځوني نه هېرېدونکي جنايت له هغودردوونکوبېلګوڅخه دي چې په افغان تاريخ کې به تل په زخمي توروليکلي پاته وي.

دهمدغوامريکايي پوځيانوله لاســه په افغــان ولس يوه داسي ناوړه اداره وتپل شوه چې په نړی کې يې دبدنامي لمړی مقام ترلاسه اوديموکراسي يې په شرموونشرموله .

همدغوپوځيانوپه ګران افغانستان کې  يوه داسي ککړه ديموکراسي  پلي کړه چې هم زموږ دودونو ته پکي زيان واووښت اوهم زموږعقايدوته دبېلګي په ډول:






دتېرې روژې مبارکي په اووه ویشتمه دوزیرمحمداکبرخان په جومات کي دقرآن پاک ختم روان وخو ترڅنګ يي دافغانستان داسلامي ؟؟جمهوريت داطلاعاتواوکولتور وزير مخدوم رهين دسلماجاني کنسرت ته ځان ړپاوه.

نورې بېلګي يي هم شــته خوپه ليکلــوبي ستاسوارزښتناک وخت نه نيسم يوازې دومره ليکم چي دسپيني ماڼی واکمنانودسپتمبرديوولسمي په پلمـــه زموږدهېواداوسيمي داشغال په موخه دلس ګونوزرو پوځيانوپه مخ کي دوهم ببرک کارمل (حامدکرزی) په لاندې ډول په افغان ولس نازل کړ:




له هرڅه لمړی يي  دلنډمحاله دورې اواساسي قانون دجوړېدوپه پلمه دافغاني لويوجرګواهميت  ډېرکم کړبيايي ديوې پردې اوبلمنګي ديموکراسي پلي کولوپاره دټاکنوپه پلمه دولس ذهنيت داخواالخواوړاو.

ددووډورووولسي جرګواوولسمشريزوټاکنوله جعلکاريواورسواييوڅخه خوهيڅوک هم سترګي نه شي پټولای .

موږ ته داهم  روښــانه ده چي ټاکني ولي ، دڅــه اوچاپاره هغه هم بيا په داسي ډول ترسره شوې چي په لوی لاس د ځينولپاره پاني ونه رسېدي په چاټاکنيزې حوزې کمي يابندې کړل شوې خو ځينوته هم حوزې زياتي شوې هم يي وخت زيات ورکړاوهم يي اضافه پاني پسي ورولېږلي خونوروته په مسنوعي ډول امنيتي خنډونه جوړکړل شول.

داټولي ګلکاری دهمدغوراغللونابللوپه لاس وشوې ترڅوديوې مزدورې مقننه، اجرائيه اوقضائيه قوې په مرسته دراتلونکي لپاره ددوی په ګټه ترونونه ومني خونن  "بناغلی اوباما" وايي چي کېدای شي وروســته له ۲۰۱۴زکال څخه يوسرتېری هم په افغانستان کي پرې نه ږدو واوا ګوډ بای ګوډبای!!

درنو خويندو اووروڼو!

افغانستان زموږ دټولو وروڼو قومونو ګډ کور دی ددې کورنجات او جوړول زموږ ټولوګډ مسؤوليت دی دا کور په لاسپوڅونه جوړېږي نه بـچ کيږي ځکه خوله اخـلاقي اوحقوقي  اړخه  دحامدکرزي اداره دکوم  ترون  صلاحيت له داسي کوم چاسره نه لري چي دهغوترمطلق اثرلاندې وي .

دکابل اداره پرديو راوستي دپرديوپه خدمت کي ده اوپرديوله خواتمويليږي نوپه کوم زور به پرديو ته شرطونه وړاندي کړي؟

دحامدکرزي داټوله اداره چې  راواخلئ دامریکایوچپړاسي ته کوم شرط نه شي ایښودلای  څه ماناخولادسپیني ماڼۍ واکمنانوته.

لنډه یې داچې سپینه ماڼۍ نازونه اوچنه بازي کوي ترڅوله یوې خودنړیوالـوذهنونه مغشوش اوله بلې خواکرزي ته پلمه په لاس وراودخپلې خوښې تړونونه  پرې ومنې امریکابه هیڅکله هم دومره په ساده ګي زموږ سیـمه پرې نه ږدي.

۲۰۱۳_۰۱_۰۹